شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۹۷ ګڼه / سه شنبه د محرم‌الحرام ۱۲ مه ۱٤٤۷ هـ.ق / د چنګاښ ۱۷مه ۱۴۰۴ هـ.ش / د جولای ۸ مه ۲۰۲۵ میلادي

تېرو دوو اوونیو کې د وسپنې پټلۍ له لارې له ۱۶۴ زرو ټنه زیات انتقالات شوي

د ټولګټو چارو وزارت ویلي، په تېرو دوو اوونیو کې د هېواد د وسپنې پټلۍ له لارې ۱۶۴ زره او ۶۷۱ مټریک ټنه د توکو انتقالات شوي دي. د یاد وزارت ویاند محمد اشرف حق‌شناس ویلي، په دې موده کې له حیرتان بندر څخه ۱۲۱۶۵۵ ټنه، له آقینې څخه ۱۲۷۶۴ ټنه، له تورغونډۍ څخه ۱۳۵۱۲ ټنه او د خواف-هــرات له لارې ۱۶۷۴۰ ټنه نفتي، غیر نفتي او د نورو سوداګریزو توکو واردات او صادرات شوي دي.

د ښــاغلي حق‌شـــناس پـــر وینا، په همدې موده کې ۲۹۶۰ ټنه صادرات هم شـــوي، چې ډېری یې وچه مېوه او د انـــارو جوس دي. د ټولګټو چارو وزارت ټینګار کړی، چې د وســـپنې پټلۍ لـــه لارې د انتقالاتو زیاتوالی نه یوازې د هېـــواد اقتصادي ثبات ته لار هواروي، بلکــې کاري فرصتونه هم رامنځته کوي او ملي عواید لوړوي. یاد وزارت ژمنتیا ښودلې، چې د لا زیاتو انتقالاتو لپاره به ســـوداګرو ته لازمې اســـانتیاوې برابرې او د ترانســـپورتي خدمتونو پراختیا ته به دوام ورکړي.

برگشت بیش از یک میلیون مهاجر افغان در سه ماه گذشته

مقام‌هــای وزارت امور مهاجرین و عودت‌کننـــدگان می‌گویند، از آغاز سال‌جاری هجری خورشیدی الی اکنون (سه ماه گذشته شامل حمل، ثـــور و جـــوزا) یک میلیـــون و ۵۰ هزار و ۵۴۹ مهاجر افغان به کشور برگشته‌اند.

مفتـــی عبدالمطلـــب حقانـــی، سخنگوی وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان در یک کلیپ صوتی این آمار را بیان کرده است.

بـــه گفتـــه ســـخنگوی وزارت امور مهاجریـــن و عودت‌کننـــدگان، این تعـــداد از مهاجرین از کشـــورهای ایران، پاکستان و ترکیه به افغانستان برگشته‌اند. او افزوده، بیش از ۸۶۰ هزار تن از کشـــور ایران، بیشـــتر از ۱۸۴ هزار تن از پاکســـتان و ۵ هزار ۱۳۴ تن دیگر از ترکیه وارد کشـــور شـــده‌اند. بربنیاد اطلاعـــات آقای حقانی، بیش از ۳۷۶ هزار ... ص۳

د کتاب‌ارزونې کمېسیون اوونیزه غونډه کړې

د اطلاعاتـــو او فرهنـــګ وزارت د خپرونـــو چارو د معیـــن مهاجر فراهي په مشرۍ او د دغه کمېسیون د غړیو په شـــتون کې پرون د کتاب ارزونې کمېســـیون نوبتـــي غونډه ترسره شوې ده.

د غونډې په پیل کې یاد کمېســـیون تـــه د تېرې غونډې راپـــور وړاندې شـــوی او په کې د کمېسیون لاسته راوړنـــې او فعالیتونه ارزول شـــوي دي.

په غونډه کـــې د بېلابېلو کتابونو په اړه لازمې پرېکړې شـــوې او هغو کتابونو ته چې له اسلامي او افغاني ارزښتونو سره ســـم لیکل شوي؛ د چاپ اجازه ورکړل شوې ده.

د غونډې پـــه پای کې، یو شـــمېر کتابونه چې کمېسیون ته د ارزونې پـــه موخـــه را تـــول شـــوي وو؛ د کمېسیون پر غړو وېشل شوي، څو په اړه یې راتلونکې غونډې ته راپور وړاندې کړي.

تأکید وزارت امور داخله بر ملبس بودن نیروهای پولیس با لباس نظامی در اوقات رسمی

وزارت امـــور داخله بـــر ملبس بودن نیروهای پولیس در اوقات رســـمی با لباس نظامی تاکید کرده است.

به گفته وزارت امور داخله، این تاکید بربنیـــاد فیصله جلســـه رهبـــری این وزارت و منظوری خلیفه سراج‌الدین حقانی، مبنی‌بر اینکه تمامی نیروهای پولیس مکلف به استفاده از یونیفورم منظورشـــده عالیقـــدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله در اوقات رســـمی هستند، صورت گرفته است. وزارت امور داخله هدف از تاکید بر ملبس بودن پولیس با لباس نظامی را سهولت در تفکیک و شناسایی نیروهای پولیس، عنوان کرده است. ... ص۳

د هرات په «اسلام‌کلا» پنډغالي کې راستنېدونکي کډوال له مخابراتي چوپړتیاوو برخمنېږي

د مخابراتـــو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت خبـــر ورکړی، چې د هرات په اســـلام کلا پنډغالي کې لـــه ایرانه د راستنېدونکو لپاره د ۵ مخابراتي شبکو استازولۍ فعالې او د مخابراتي چوپړ په موخه یې فعالیت پیل کړی دی.

د یاد وزارت په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې په دغو استازولیو کې کډوالو ته په وړیا ډول داسې سیمکارتونه ورکول کېږي، چې پر وړیا دقیقو سربېره وړیا انټرنټ هم لري.

ســـرچینې لیکلي، چې دا اسانتیاوې د مخابراتـــو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د مخابراتـــي خدمتونـــو د تنظیـــم اداري (اترا) له لـــوري ېبرته راستنېدونکو هېوادوالو ته د مخابراتي ســـتونزو د حل په موخه چمتو شوي دي. ۳مخ

نورستان کې د بولۍ له لارې د بیروج ډبرو پلور

د نورســـتان د کانونو او پټرولیم ریاست مسئولینو په دغه ولایت کې یو ځل بیا د بولۍ لـــه لارې د قیمتي ډبرو (بیروج) د پلورل کېدو خبر ورکړی دی. د نورستان د کانونو او پټرولیم رئیس مولوي سیدرحیم عمیر باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې د دغه ولایت په واما ولسوالۍ اړوند کورد درې له کانونو څخه ترلاسه شوي ۲۰ کیلوګرامـــه بیروج د ازادې بولۍ له لارې د یو میلیـــون ۸۵۱ زره افغانیو په ارزښت وپلورل شول. د نوموړي پر وینا، له یادې بولۍ له لارې به د دولت خزانې ته ۱۸۵ زره افغانیو عواید را ټول شـــي. د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم په یاده ولسوالۍ کې د ډېرش میلیونه افغانیو په ارزښت بولۍ ترسره شوې وه.

ډیپلوماتیکه بریا او د افغان شر غوښتونکو غوغا

۲مخ

د لویې نړۍ پر لور یوه دریځه

۲مخ

سرمقاله

کورنی اختلاف؛ د ذلت، خوارۍ او ناکامۍ رېښه

وایي: «دښـــمن دې که ګیدړ هم وي، تابیا ورته د زمري نیسه.» دا مقوله د هغو ملتونو لپاره یوه ژوره او تلپاتې مشوره ده، چې د بقاء او خپلواکۍ له سختو پړاوونو تېرېږي. موږ افغانان هم د تاریخ په اوږدو کې د بېلا بېلو زبرځواکونو د یرغل او تېري ښکار پاتې شـــوي یو او د مقاومت اوږد تاریخ مو د نړۍ پر لویو قدرتونو خپلـــې درنې بیې تحمیل کړې، خو دا چې دښـــمن یـــوازې د توپ او ټانک په جامه نه راڅرګندېږي؛ بلکې له ټولو خطرناک شکل یې پټه توطیه، داخلي رخنه، رواني جګړه او تبلیغاتي یرغل دی؛ نو باید له هر ډول تهدید سره د هوښیارۍ، تدبیر او ژور درک پر بنسټ مقابله وشي.

نن چې موږ تـــر بل هر وخت د ملي یووالي او متقابل زغم ته اشـــد ضرورت لرو، نو په دې وخت کې داخلي اختلاف لکه اور ته د پټرولو شـــیندل داســـې دي. داخلي اختلاف خو د هېواد بربادۍ ته لار هواروي. موږ باید هغه لاسونه، ژبــې، کړنې او موقفونه وپېژنو، چې د افغان ملت د ذلیلولو، وېشـــلو، ځورولو او بدنامولـــو لپاره کار کوي. هېره دې نه وي، چې کـــه د افغانانو ترمنځ د ملي وحدت بنسټ ټینګ نه شي، یوازې وسلې او ځواک نه شي کولای زموږ بېړۍ د بحرانونو له توپاني څپو څخه سلامت ساحل ته ورسوي.

تاریخ زموږ له ټولو لوی ښوونکی دی. زموږ د تېرو نظامونو او واکمنیو پر زوال ژور نظر د دې ښکاره ثبوت وړاندې کوي، چې د داخلي اختلاف، ځان ځانۍ، واک انحصار او قدرت غوښتنې په نتیجه کې څومره ځواکمن حرکتونه له منځه تللي او ملت یې د غلامۍ تر درون بار لاندې کړی دی.

نه یوازې زموږ تاریخ؛ بلکې د اســـلام سپېڅلي ارشـــادات او د نړۍ معاصرې تجربې دا څرګندوي، چې اختلاف، تجزیه او کورنی کشمکش د قومونو د زوال اصلي عوامل دي، خـــو مقابل کې یې یووالی، همغږي، صبر او تفاهم د بقاء، بریـــا او پرمختګ تضمین ګڼل کېږي. نن چې زموږ ولـــس تر ډېره د امنیت له نعمت، د سر، مال، دین او ناموس له خوندیتوبه برخمن دی، نو ... ۳مخ

۱۰۰۰ بستریز روغتون کې د زرګونو معتادینو درملنه شوې

شـــریعت: دا چې په هېـــواد کې د اســـلامي امارت په واکمنېدو ســـره هرې برخې تـــه د پام وړ خدمات تر سره شوي، په ځانګړې ډول د روغتیا برخـــه کې د ګـــڼ شـــمېر معتادینو درملنه په ښه شان تر سره شوې ده.

د زر بســـتریز روغتون د مسؤلینو پر وینا، په تېـــرو درېو کلونو کې له ۳۲ زره څخـــه د زیاتـــو ناروغانو درملنه شـــوې او خپلو کورونو ته روغ ستانه شوي دي.

د زر بســـتریز روغتون رییس شـــیخ عبدالناصر منقاد د شریعت ورځپاڼې خبریال تـــه ویلي، چـــې دا مهال د ۶۰۰ څخه زیـــات ناروغان د روانې څارنې، ژغورنـــې او درملنې لاندې دي، په میاشت کې څو ځلې د هېواد د بېلابېلـــو ولایتونو څخـــه معتادین راوړل کېږي، چې یاد ... ۳مخ

د کرنیزو محصولاتو ساتنه؛ د سړو خونو نشتوالی د کروندګرو سترياوې بې ارزښته کوي

شریعت: افغانســـتان که له یوه پلوه د حاصلخېزو ځمکو، مناسب اقلیم او موسمي تنوع له امله د کرنیزو حاصلاتو یو بډای هېواد ګڼل کېږي، له بله اړخه د دغو حاصلاتو د خوندي ســـاتنې له بنسټیزو اسبابو، په تېره بیا د سړو خونو د نه شتون له ستونزې سره مخ دی.

که څه هـــم د کرنې، اوبـــو لګولو او مالـــدارۍ وزارت چارواکي په ځینو ســـیمو کې د سړو خونو د شتون خبره کوي، خو د معلوماتـــو له مخې دغه ســـړې خونې بسنـــه نه کـــوي او یا د محصولاتو د ښې ساتنې وړتیا نه لري.

د هېواد په بېلابېلو سیمو کې کروندګر هر کال سلګونه ټنه مېوې، سبزیجات او نـــور کرنیز توکي تولیـــدوي، خو د مناســـبو زېربناوو د نشتوالي له امله اړ کېږي، چې خپل حاصلات په ارزانه بیه په کور دننه بازار ته وړاندې کړي، یا یې نورو هېوادونه ته ولېږي او یا دا چې په پټیو کې وراسته او له کاره ولوېږي.

د سړو خونو نشتوالی نه یوازې دا چې د بزګرانو د اقتصادي زیان سبب ګرځي، بلکې د کورني بازارونو د بې ثباتۍ، د صادراتو د کمښت او د محصولاتو د معیاري وړاندې کولو پر ... ۳مخ

آغاز کار شبکه آبرسانی در کندهار

کار ســـاخت یک شـــبکه آبرسانی صحی به ارزش یازده میلیون افغانی در مربوطات ولایـــت کندهار آغاز شده است.

وزارت احیاء و انکشـــاف دهات با ارســـال خبرنامه‌ای به رادیو امید، از آغاز کار این پروژه عام‌المنفعه خبر داده است.

به گفته این وزارت، شـــبکه آبرسانی یادشـــده در قریـــه «معروفیـــان» ولسوالی سپین‌بولدک ولایت کندهار ساخته می‌شـــود و ۵۳۰ خانواده از آب آن مستفید خواهند شد.

بـــه گفتـــه وزارت احیا و انکشـــاف دهات، در جریان تطبیق ... ص۳

د لويې نړۍ پر لور یوه دریڅه

عمر ناصح

روسیه لومړی هېواد شو، چې د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه کې یې زړور ګام پورته کړ. دغه ویاړ ځکه بیا ځلي مسکو ته بښل کېږي، چې دې هېواد په ۱۹۱۹ زېږدیز کال کې هم له برېتانوي ښکېلاکه د افغانستان خپلواکي لومړی پر رسمیت پېژندلې وه. په هغو کلونو کې په اسلامي نړۍ کې افغانستان لومړی هېواد و، چې له یوه ستر زبرځواک څخه یې د تورې په زور ازادي واخیسته او د یوه خپلواک هېواد په توګه یې سر راپورته کړ. مسکو د اسلامي امارت پر رسمیت پېژندنې سره وښوده، چې له چا پر پټو سترګو پیښې نه کوي، د چا پر لار نه درومي او نه هم د بل چا تر اغېز لاندې دی.

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په خپله ویېپانه لیکلي وو، چې د بهرنیو چارو د مرستیال وزیر په لاس یې مسکو کې د اسلامي امارت د مېشت سفیر ګل حسن حسن باورلیک منلی دی. د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي هم کابل کې د روسیې له سفیر دیمیتري ژېروف سره غونډه کړې وه او افغان لوري ته یې د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه اورولې وه. ښاغلي متقي دې غونډه کې د مسکو د دې ګام اخیستو هرکلی کړی او هیله یې ښودلې، چې نور هېوادونه هم د مسکو پر پله پل واخلي او دا لړۍ پسې وغځوي. د روسیې د بهرنیو چارو وزارت هم په خپل رسمي ادرس لیکلي، چې د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه به د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډې همکارۍ فرصتونه رامنځته کړي. اوس دا پوښتنه کېږي، چې ایا د مسکو له لوري د افغانستان د رسمیت پېژندنې لړۍ به نور هېوادونه هم پسې وپالي او که خدای مه کړه د اسلامي امارت د تېرې حکومتولۍ غوندې به یې یوازې څو هېوادونه پر رسمیت وپېژني؟ همدا شان د روسیې دا اقدام د افغان حکومت د مخالفینو ډلې لا څومره منزوي کوي؟

د مسکو له لوري د اسلامي امارت تر رسمیت پېژندنې وړاندې دغه هېواد اسلامي امارت له بندیز سره د مخ ډلو له نوملړه هم اېستلی و. د اسلامي امارت په بیا راتګ سره د مسکو او کابل اړیکې خورا وغوړېدلې او دوه اړخیزه ښکېلتیا آن تر رسمیت پېژندنې لوړه شوه. د مسکو له لوري دا اقدام کومه هېښوونکې پرېکړه نه وه؛ بلکې مسکو لا پخوا پر دې مسئلې غور کړی و. د روسیې دا اقدام خورا زړور و او ویې ښودله چې روسیه هم د یوه زبرځواک هېواد غوندې د چا له سیوري لاندې پرېکړه نه کوي؛ بلکې په خپلو کړو وړو کې خپلواک دی. د مسکو له لوري د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې ګټې ګڼې دي، چې موږ یې یوازې څو ترې دلته راخلو.

۱ـ له سیاسي انزوا او جمود څخه د اسلامي امارت راوتل

۲ – له نړۍ او خصوصاً د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان اقتصادي، پوځي، ټولنیزو، کلتوري او نورو اړیکو پراختیا

۳ـ په نړیواله توګه د خپلو خلکو غږ رسونه او انعکاس یې

۴ـ د اقتصادي راکړې ورکړې اسانوالی

۵ ـ د حقوقي ستونزو کمښت او یا صفر کېدل

د مسکو له خوا د اسلامي امارت پر رسمیت پېژندنې منفورې او ازمویل شوې څېرې بیا راپارولي او د مسکو دا اقدام یې جرم بللی دی. د افغان حکومت او ملت دغه تش په نوم مخالفان چې مخالفت او ناکامه مبارزه یې تر پوستونو او ټوېټونو محدوده ده؛ هېڅ ډول ولسي رنګ او محبوبیت نه لري. دا هغه ډلې ټپلې دي، چې د افغانانو کور ته یې د نړیوال استکبار د راتګ لارې په ګلونو فرش کړې او د پردیو له لوري له افغانانو سره ظلم او زیاتی ته یې په چکچکو بدرګه کاوه. له دغو منفورو ډلو سره د افغان ولس او وطن غم او حس نشته؛ بلکې دوی د وینو او وطن پلورنې پخواني ټېکداران دي. دوی د خپلو ګټو او سهمونو په لټه کې دي او د خپلو ګټو په خوا ور رغړي. دا هغه خلک دي، چې په لوی کور کې کوړکي جوړوي، لوی صف په وړو وړو ډلو وېشي او له خپل سنتو او ارزښتونو سره براعلی جګړه اعلانوي. دا هغه ازمویل شوې څېرې دي، چې له وینو، جګړو او یرغلونو پرته یې بل څه ولس ته نه دي ورکړي او ټول افغان ولس یې له نومونو استفراق کوي.

د روسیې له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنې دا شونتیا ډېره کړې، چې ښایي د سیمې هېوادونه به هم د روسیې لاره تعقیب کړي. نارسمي سرچینو ویلي، چې ازبیکستان، تاجیکستان، ترکمنستان، قزاقستان، ایران او نور هېوادونه هم په ګډه د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په پار غونډه کوي. د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د افغانستان اړیکې یوازې تر سوداګرۍ محدودې نه دي؛ بلکې د اوبو مسایل، سیاست، امنیت، د سیمې ټیکاو او نور ګڼ مسایل شته، چې د یادو هېوادونو په ګډې همکارۍ حلېدای شي. لرې به نه وي، چې چین هم د روسیې لاره خپله کړي او د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه په یوه سیمه ییزه سیالۍ بدله شي. یو بل احتمال دا هم شته، چې د افغانستان پر رسمیت پېژندنې لړۍ د شانګهای تر غونډې وغځېږي. دا چې په را روانه اګست میاشت کې د شانګهای غونډه ده او همدا شان به اسلامي امارت د خپلې بریا څلورمه کلیزه نمانځي؛ اسلامي امارت به دې غونډه کې پراخ حضور ولري، د سیمې هېوادونو ته به ډېر وضاحت وړاندې شي او ښایي مسکو پر خپلو متحدینو او نږدې هېوادونو غږ وکړي، چې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په پار اقدام واخلي.

پایله:

د اسلامي امارت څلور کلن جمود د مسکو له لوري مات شو او نورو هېوادونو ته یې لار پرانیسته.

له دې پرېکړې وروسته تمه شته، چې نور هېوادونه په ځانګړي ډول د سیمې هېوادونه په ورته اقدام لاس پورې کړي. د اوس لپاره اسلامي امارت ته بویه، چې له دې راغلي چانس پوره ګټه پورته کړي. تر اګسته د روسیې په څېر نور هېوادونه هم رسمیت پېژندنې ته را وبولي. تر دې مهمه دا ده، چې دا چې افغان حکومت او ملت تر هر څه ډېر په یوه بل کې مدغم شي او نړۍ موږ په یوه غږ وپېژني. رسمیت پېژندنه مو تر سیمه ییز ټیکاو او استحکام پورې ورلې شي. دا به په لویه کې زموږه کډوالي راکمه او له نورو هېوادونو سره به لا ښه ډیپلوماتیک چینلونه پرانیزو. په لنډه توګه ویلی شو، چې دا ګام نه یوازې د اوسني نظام ستر ډیپلوماتیک بری دی؛ بلکې د نظام او د خلکو د هوساینې او ځانبسیاینې اړوند اغېزمن ګام هم دی.

اسلامي هېوادونه مکلف دي، چې د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه کې له نورو مخکښ شي

مفتي محب اللّٰه حقاني

د روسیې فدراسیون له طرفه د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې له پرېکړې سره سم د ا.ا.ا رسمیت پېژندنې موضوع پر نړیواله سطح د بحثونو اجنډا ګرځېدلې، په دې اړه بېلابېلې شننې، تبصرې او څرګندونې هغه څه دي، چې د خواله رسنیو د خبرونو او راپورونو سر ټکې ګرځېدلي دي. ځینو هېوادونو د روسیې دغه ګام ښه د متقابل احترام او متوازن تعامل سره برابر ګڼلی او تر څنګ یې د دې مثبت ګام هرکلی کړی، بلخوا د اسلامي علماؤ نړیوالې ټولنې رییس دکتور علي قره داغي هم د روسیې له خوا د ا.ا.ا د رسمیت پېژندنې هرکلی کړی او دغه پرېکړه یې د افغان ولس ارادې ته درناوی بللی، همدا راز یې پر اسلامي هېوادونو غږ کړی، چې د ا.ا.ا په رسمیت پېژندنه کې له نورو څخه مخکښ او پیاوړي و اوسي.

داچې د ا.ا.ا د رسمیت پېژندنې پرېکړه د هېوادونو لپاره یو حساس ګام ګڼل کېږي، ځکه چې دا پرېکړه د پرېکړه کوونکي هېواد پر سیاسي، نظامي، امنیتي، اقتصادي او جیوپولتیکي تأثراتو څه ناڅه اغېز اچوي؛ نو ځکه هېوادونه د دې پرېکړې په ترسره کولو کې خورا درونډ، حساس او محتاط قدم اخلي.

خو په دې مورد کې د پام وړ خبره داده، چې روسیې که د ا.ا.ا پر وړاندې دغه مثبته پرېکړه د جیوپولتیکي او یا نورو غیر دیني ګټو په اساس وکړه؛ اسلامي هېوادونه هم د دیني او اسلامي اخوت پر اساس مکلفیت لري، چې د.ا.ا.ا د رسمیت پېژندنې په پرېکړه کې رغنده ګام واخلي او په دې پرېکړه کې تر نورو نا مسلمانو هېوادونو مخکښ او پیاوړي و اوسي؛ ځکه چې اسلامي هېوادونه له اسلامي امارت سره هغه دیني او معنوي ګډ مشترکات لري، چې له امله یې د ا.ا.ا پر اسلامي هېوادونو حقه حق جوړېږي، چې په هر راز حالاتو کې به د ا.ا.ا همکارۍ او خواخوږۍ ته لومړیتوب ورکوي، ځکه چې د ا.ا.ا د خپل اقتدار پر مټ سره په درست هېواد کې سوچه اسلامي نظام رامنځته کړی، په خپل پوره توان سره یې د دیني او اسلامي ارزښتونو ساتنې ته لومړیتوب ورکړی او تصمیم لري، چې د ځمکې پر ټوله جغرافیه به د الهي او نبوي قانون په پلي کولو کې هېڅ نوع هڅه نه سپموي، د اسلامي أمت د تېر برم او عظمت د اعادې لپاره یې قوي ارادې او مضبوط پلانونه سنجولي او په عموم کې یې هغه څه ترسره کړي او لا یې د ترسره کولو په فکر کې دی، چې هغه د اسلام د قوت، عظمت او اعلا په برخه کې او د کفر و شرک د ضعف او زوال لپاره رول لوبوونکې هڅې ګڼل کېږي؛ دا ټول هغه څه دي، چې د ټولو اسلامي هېوادونو ګډ او مشترک مطالب ګڼل کېږي او ټول اسلامي هېوادونه مسئولیت لري، چې د دغه مطالبو د ترلاسه کولو لپاره بې دریغه هلې ځلې وکړي، خو دې مطالبو ته د لا ښه لاسرسي لپاره اړینه ده، چې ټول اسلامي هېوادونه په بدرګه سره د ا.ا.ا تر شا ودرېږي، ملاتړ یې وکړي او د رسمیت پېژندنې په پرېکړه کې تر نورو هېوادونو مخکښ او پیاوړي و اوسي.

ډیپلوماتیکه بریا او د افغان شر غوښتونکو غوغا

خلیل تسل

تېره اوونۍ په یوه تاریخي او د توقع خلاف پرېکړه کې روسیې د نړۍ د ځواکمن هېواد او د ملي امنیت شورا د دایمي غړي په توګه یوه نه پټېدونکې واقعیت ته غاړه کېښوده، افغانستان یې یو ځل بیا په رسمیت وپېژانده او د افغانستان اسلامي امارت د سفیر باور لیک یې له نړیوال ډیپلوماتیک عرف سره سم تر لاسه کړ. دا خبره هم په هېواد دننه او هم بهر له ډېرو غبرګونونو او هر کلي سره مخامخ شوه، چې بحث وربانديې کېدی شي، خو دې موضوع ته تر ورتګ وړاندې به اړینه وي، چې د اسلامي امارت نړیوالو ډیپلوماتیکو هڅو او بریاوو ته هم یو څه اشاره وشي.

په افغانستان کې د اسلامي امارت تر دویم ځلي حاکمیت وړاندې هم د جهاد او مبارزې د ګرمو سنګرونو تر څنګ له نړیوالې سره د خبرو اترو او ډیپلوماتیکو اړیکو دروازې پرانېستې وې، چې په قطر کې د سیاسي دفتر له پرانیستل کېدو سره یې رسمي بڼه ومونده او بالاخره یې د بهرنیو اشغالګرو د وتلو تاریخي تړون لاسلیک کړ. له فتحې او بیا حاکمیت وروسته د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت له لارې د خپلې فعالې او اغېزناکې بهرنۍ ډیپلوماسۍ پر مټ وتوانېده، چې د نړیوال رسمیت پر نشتوالي سربېره هم له ډېرو په رسمیت پېژندل شویو ګاونډیانو هم خپل حیثیت لوړ وساتي او ګڼې ډیپلوماتیکې بریاوې ولري.

په نړیوال سیاست کې فعاله بهرنۍ ډیپلوماسي نن سبا یوه داسې ژبه ګڼل کېږي، چې د هېوادونو ګټې، د خپلو ملتونو غوښتنې او اړتیاوې وربانديې رسول کېږي او اسلامي امارت هم د همدې اصل په پام کې نیولو سره د یوه غیر متزلزل سیاست او با دریځه نړیوال ستیج په درلودلو سره تر ډېره پورې نړۍ او نړیوال سازمانونه قانع کړای شول چې اوس په افغانستان کې د نړیوالو تپل شوې جګړه نشته او د نن سوله ییز افغانستان له نړۍ سره هر ډول سوله ییز تعامل او خبرو ته په هر ډول شرایطو چمتو دی، خو خپلې سرې کرښې او موخې په هېڅ صورت هم د نورو تر ګټو او بې ځایه غوښتنو نه شي قرباني کولی، چې په همدې سبب یې نړیوال باور او حیثیت خپل کړ او دا ژبه یې ګڼو هېوادونو او حتی ملګرو ملتونو هم درک کړې او له دغه واقعیت څخه ډېر منکر نړیوال سازمانونه او متعصب حکومتونه هم بالاخره دې حقیقت ته غاړه ږدي.

اوس به بېرته همدې وروستۍ بریا یعنې د روسیې له لوري د لومړي هېواد په توګه د رسمیت پېژندنې موضوع ته راشم، د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد له یوې کورنۍ رسنۍ سره د دغه خبر د تائید پر مهال ویلي، چې اسلامي امارت په خپل بهرني سیاست کې هر هېواد ته خپلې روښانه سرې کرښې لري، چې د اسلامي شریعت اصولو ته درناوی، د ملي ګټو او ارزښتونو خوندیتوب او د یو بل په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه ده او روسیې هم بالاخره دغه حقیقت درک کړ او د رسمیت لپاره یې په جرئت سره ځان را وړاندې کړ، چې موږ یې مننه کوو. په همدې ډول کابل کې د روسیې سفیر ویلي، چې افغانستان یې د بهرنیو چارو د وزیر سرې لاوروف په وړاندیز د ولسمشر پوتین له لوري په رسمیت پېژندل شوی او د دوی د بهرنیو چارو وزارت د څرګندونو له مخې دوه عمده ټکي د رسمیت پېژندنې قضیه پیاوړې کوي، یو دا چې اسلامي امارت توانېدلی، چې له خپلې خاورې ټولې ترهګرې ډلې ختمې کړي، بشپړ امنیت راولي او دویم دا چې افغانستان اوس د نشه یي توکو تولیدوونکی هېواد نه دی. په رښتیا هم دا پورتني دوه داسې واقعیتونه دي، چې د افغانستان نړیوال تصویر ورسره بدل شوی او حتی د افغانستان سر سخته دښمن هېوادونه هم په دې اقرار کوي، چې افغانستان اوس امن دی او نشه یي توکي نه تولیدوي.

بل مهم بحث دا دی چې روسیه د نړۍ او سیمې په کچه ستر اقتصادي، سیاسي او پوځي ځواک دی، د ټولې اسیا په ځانګړي ډول مرکزي اسیا پر پرېکړه او بدلونونو کې خپل اغېز لري او هڅه کوي، چې د خپل نفوذ ساحه له خپلو هم پیمانو او دوستو هېوادونو سره د غوره اړیکو له لارې با ثباته وساتي او په هر قېمت د غرب او امریکا د هر ډول نفوذ مخنیوی وکړي، چې یو مثبت ګام دی او هېڅوک په ځانګړي ډول افغانان له ناټو او امریکا څخه ښې خاطرې ځکه نه لري، چې افغانستان کې یې د اشغال پر مهال وحشتونو او زیاتي، پر خپلو ګوډاګیو نظامونو پانګونې د یوویشتمې پېړۍ ډېر معیارونه او د دوی په اصطلاح بشري اصول تر پښو لاندې کړي دي.

د روسیې په باب بله مهمه موضوع دا ده، چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان په تړاو مثبت نظر وړاندې کولی شي او د دې امکان ډېرېږي، چې له افغانستان سره د نړیوال تعامل اوسني بهیر ته د خپل نفوذ له مخې چټکتیا ور په برخه کړي، د دې تر څنګ روسیه د افغانستان پر شمالي ګاونډیو هېوادونو پراخ اغېز لري، چې د خپلو ستراتیژیکو ګټو له مخې د ټولو هېوادونو وضعیت، که څه هم له پخوا نه له افغان حکومت سره ښه دی، نور هم ښه کېدلی شي او دا چاره د غلو دانو او وارداتي برېښنا په تمویل یا هم د تاپي او کاسا زر پروژو په تطبیق یا عمومي ډول سوداګرۍ کې خورا اغېز لري.

هغه څه چې د دې مقالې بله برخه جوړوي، له دغه ډیپلوماتیکې بریا کورنۍ او نړیوال هر کلی دی، د اسلامي امارت بل ستراتیژیک ملګری چین یو له هغو هېوادونو څخه و، چې د روسیې له دې پرېکړې یې هر کلی وکړ او شونې ده چې په نږدې راتلونکې کې به، سره له دې چې د اسلامي امارت سفیر یې منلی دی، په رسمي ډول قدم کېږدي. د نړیوالو چارو د شنونکې ملک ستیز پر وینا شاید نږدې راتلونکې کې متحده عربي امارات، ایران، هند، چین، سعودي عربستان او پاکستان هم د روسیې پر پله قدم کېږدي.

په کور د ننه ګڼو هېوادوالو په دې بریا خوښي څرګنده کړې او دا یې د اسلامي امارت د نړیوال مشروعیت پیلامه وګڼله، خو له بده مرغه چې د تېر جمهوري نظام او د اسلامي امارت بهر مېشتو تش په نامه «مقاومت» او نورو وسله والو ترهګرو ډلو یا «جبهو» د روسیې پر دغه پرېکړه غوغا جوړه کړه او دې ته یې د خپل «عقل او تحلیل» له مخې د روسیې سیاسي تېروتنې نوم ورکړ.

دوی چې له دې وړاندې یې د اروپا او امریکا یا نورو سیمه ییزو قدرتونو په استخباراتي پیسو زموږ په شمالي ګاونډیو هېوادونو او روسیه کې وخت ناوخت مناسبتي غونډې او کنفرانسونه نیول، له دې تصمیم سره ور باندې د امن دغه پناه ګاوې هم ودرېدې، ځکه چې نړۍ او په ځانګړي ډول روسیې دا درک کړه چې دا ډلې او اشخاص د افغانستان لپاره نه پخوا د کومې طرحې لرونکي وو او نه هم د راتلونکې لپاره د افغانستان غم ورسره شته، بلکې هر اقدام یې یوازې د خپلو هغو پانګو او سیاسي باندونو ساتنه ده، چې په جمهوریت کې یې له بهرنیو استخباراتو، د افغانستان له بیت المال او نامشروع کاروبارونو له لارې تر لاسه کول.

حقیقت دا دی، چې د افغانانو په څېر نړیوالو هم اوس د هغوی حقیقت درک کړی او په دې پوهېدلي، چې د جبهو او مقاومت یا نورو سیاسي شعارونو تر عنوان لاندې د جمهوریت او جمعیت د سولېدلو او بې اعتباره څېرو څخه جوړ شوي سازمانونه نه د افغانانو استازولي کولی شي او نه هم کوم سیاسي مشروعیت لري. دوی خپله ناوړه څېره د روسیې له لوري د افغانستان له رسمیت پېژندنې سره هم څرګنده کړه. که یو افغان، سیاسي فعال یا پخوانی مشر واقعاً له افغانستان، افغانانو او خپلو ملي ګټو سره خواخوږي لري، باید په هر صورت کې یې د دغه سترې ډیپلوماتیکې بریا هر کلی کړی وی، خو دا چې پر ضد یې شور او غوغا جوړوي، حتی روسیې ته نصحتونه کوي، چې دا کار مه کوئ، تر دې به د حماقت او له هېواد سره د دښمنۍ بل ستر مثال چېرته وي؟

اسلامي امارت بیا هم له خپل ټول درنښت او مدبرانه سیاست سره د هغوی پر وړاندې چوپه خوله دی، پر دې بریا د غرور د احساس او شور پر ځای هڅه کوي، چې د خپلې بهرنۍ پالیسۍ په رڼا کې د سیمې او نړۍ نور هېوادونه هم دې ته قانع کړي، چې د افغانانو غوښتنې او ګټې وربانديې د مشروع دوه اړخیزو اړیکو له لارې خوندي کړي او خپل هېواد له نړیوالې انزوا څخه د ډیپلوماسۍ فعال ستیج ته ورسوي، داسې مقام چې ستنې یې پر کورني مشروعیت، سولې، امن او بیا رغونې ولاړې دي.

له ټولو مهم دا چې د ملي او اقتصادي استقلالیت په رڼا کې یوه هېواد، یوه سازمان او دریځ ته هېڅ تمایل نه لري، بلکې د سیمه ییز او نړیوال توازن یو تاریخي حقیقت یې خپل کړی، داسې چې نه د چا چارو کې لاسوهنه کوي، نه لاسوهنه زغملی شي، همداسې هر هېواد ته تر خپلې کچې درناوی او ورسره د اړیکو او توازن ساتلو لېوالتیا لري. په دې هیله، چې د افغانستان مخالفین او بهر مېشتي شر غوښتونکي دا داسې څرګندونو پر ځای خپل ګرېوان کې وګوري او نور نو ځانونه له تاریخي شرمونو څخه وساتي، دوی اوس له کاره لوېدلې پرزې دي، چې بهرنیو بادارانو یې هم وربانديې باور له لاسه ورکړی او افغانانو تر بل هر وخت ښه پېژندلي دي، غوره ثبوت به یې د دوی پر مخالفو نظرونو خواله شبکو کې د عامو افغانانو او ځوانانو کومنټونه وي، چې که دوی وجدان ولري، بیا به کله هم داسې څرګندونې ونه کړي.

افغان اعـــلانات

موضوع : اعلان تصمیم اعطای قرارداد پروژه تهیه و تدارک پرزه جات ضرورت وسایط وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی

بدین وسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود, وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی پروژه تهیه و تدارک پرزه جات ضرورت وسایط ، وزارت مخابرات را به شرکت های برنده به شرح ذیل اعطاء می نماید.

۱- بیست یک (۲۱) قلم پرزه جات وسایط را به شرکت توفیق نظری لمیتد واقع پروان سوم, مرکز کابل ، به مبلغ مجموعی حدی اقل یک صدو بیست و هفت هزارو سه صد(۱۲۷۳۰۰) افغانی و حدی اکثر به مبلغ(۱۵۰۶۲۰) افغانی اعطاء می نماید.

۲- ســی(۳۰) قلم پرزه جات وسایط را به شرکت صدیق احمدی لمیتد , قوای مرکز , مرکز کابل به مبلغ مجموعی حدی اقل دوصدو شصت و پنج هزارو چهارصدو دوازده اعشاریه دو صدو هفتادو سه(۲۶۵۴۱۲٫۲۷۳) افغانی و حدی اکثر مبلغ سه صدو سی و شش هزارو چهار صدو هشتادو سه اعشاریه هشت صدو هشتادو دو(۳۳۶۴۸۳٫۸۸۲) افغانی اعطاء می نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند, می تواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات واقع منزل چهاردهم تعمیر -۱۸- منزله وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی, قرارداد منعقد نخواهد شد.۱۷۲

اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم نصیر احمد رحمانـــی فرزند نثاراحمد ولدیت غلام غوث دارنده تذکره نمبر (۱۴۰۱-۱۲۰۱-۵۵۳۸۰) مســکونه اصلی ولایت وکیل شرعی دواخانه ارمیا واقع ولسوالی اوبه ولایت هرات عنوانی این میعنیت عارض واز مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشـــر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۷

اطلاعیه کندز

ریاست امر بالمعروف و نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت کندز در نظر دارد که هشـــت قلم روغنیات تیل پطرول، دیزل و میلایل و فلتر باب روغنیات سال مالی ۱۴۰۴ مورد نیاز عراده جات خویش را طور داوطلبی قانون تدارکاتی قرار داد نماید. ریاســـت ذکر شـــده از تمام داوطلبان واجد شـــرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تهیه ۸ قلم روغنیات مورد نیاز این اداره اشـــتراک نموده مبلغ (۱۰۰۰) افغانی پول غیر قابل بازگشت اسناد داوطلبی که به زبان دری میباشد و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط ار بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شرطنامه مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز شـــنبه تاریخ ۲۸/ســـرطان ۱۴۰۴ به ریاست امر بالمعروف و نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت کندز تضمین سری دوره ناحیه پنجم ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر بصورت بانکی و یا پول نقد اخذ میگردد و جلسه آفرگشایی بروز یک شنبه تاریخ ۲۹/سرطان/۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در ریاست امربالمعروف و نهی عن المنکر و سمع شکایات تدویر میگردد.۱۵۹۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بسو بی بی رحیم زی بنت رحمت گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ارشاد مومند فرزند گلاس خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالوهاب محسنی فرزند عبدالستار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حضرت ولی وطن دوست فرزند زین الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قاسم جلالی فرزند سید جلال مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کرامت الله آرمان فرزند محمد صابر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عایشه امیری بنت عبدالحمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۰۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت ســـیاحتی به اسم جان محمد نوابی فرزند خان جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاســـپورت سیاحتی به اسم نازیه ایوبی فرزند عبدالسلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم هیواد صافی فرزند محمد صابر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد فهیم صافی فرزند بشر مل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم تمیم نوروزی فرزند ذبیح الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مســیح الله نیازی فرزند عبدالستار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ضیاخان پارسا فرزند عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۶۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالطیف رحیمی فرزند عبدالواحد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فیروز فرزند غلام حسن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرزاد نبی زاده فرزند فیروز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۳۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اســم فرهاد فرزند فیروز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۳۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خدانظر نظری فرزند محمد نظر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۳۲

اطلاعیه مفقودیکککک

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قربان محمد حافظی فرزند غلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۳۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم هدایت الله قزل باش فرزند ولی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۳۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سمیع الله نوری فرزند حمید الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۳۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت ســـیاحتی به اسم نوید مسکین زی فرزند محب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۳۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام نقشبند صافی فرزند عبدالقیوم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۳۷

موضوع: اعلان داوطلبی

نمبر تشخیصیه پروژه: MOMP-W-12-NCB-1404

ریاســـت تدارکات وزارت معادن و پترولیم از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه نامبرده اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را از آمریت تدارکات ساختمانی الی روز شنبه تاریخ ٤/اسد/١٤٠٤ در بـــدل مبلغ (١٠٠٠- یک هزار افغانی) اخذ و آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه طبق قانون و طرزالعمل تدارکات، خانه پری و در جلسه روز آفرگشایی ارایه نمایند.

روز آفرگشایی یک شنبه به تاریخ ٥/اسد/١٤٠٤ ساعت ١٠:٠٠ بجه قبل از ظهر می باشد. تضمین آفر بشکل ضمانت خط بانکی مبلغ (١٥٠,٠٠٠) یک صد و پنجاه هزار افغانی اخذ میگردد.

جلسه آفرگشایی در صالون کنفرانس ریاســـت تدارکات وزارت معادن و پترولیم واقع ناحیه نهم، چهارراهی مکروریان، جوار مسلخ دایر میگردد.

«دعوت به داوطلبی روش باز ملی»

شماره دعوت به داوطلبی: M AIL/1404/NCB/G-1673

ریاست تهیه و تدارکات وزارت زراعت ، آبیاری و مالداری از تمام داوطلبان واجد شـــرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه (تدارک ۱۰ قلم خوراکه و ادویه جات فارم ماهی قرغه مورد ضرورت ریاست ترویج طیور ماهي و حشرات اقتصادی) تحت داوطلبی باز داخلی با شماره تشخیصـــیه M AIL/1404/NCB/G-1673 اشـــتراک نموده و آفرهای سربســـته خویش را مطابق شرایط شرطنامه طبق قانون و طرزالعمل تدارکات عامه الی ســـاعت{۱۰:۰۰}قبل از ظهر روز{ دوشنبه شنبه} مؤرخ {۱۳-۰۵-١٤٠٤ هجری شمسی} ارائه نمایند،آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشـــند. مبلغ (٤٣,٠٠٠) چهل و سه هزار افغانی به شکل (بانک گرنتی) طبق شرطنامه و شرایط اهلیت (طبق ماده ۱۷ قانون تدارکات عامه) میباشد. آدرس مکان جلسه : منزل دوم تعمیر ریاست مالی و تهیه وتدارکات دفتر آفرگشـــایی. داوطلبان میتوانند اسناد مکمل داوطلبی را از سیســـتم الکترونیکی AGEOPS.AF تدارکات ملی داونلود نمایند،در صورت عدم داونلود از ویب ســـایت، داوطلبان می توانند شرطنامه را در سی دی یا فلش دیسک از آمریت تدارکات اجناس وخدمات غیر مشورتی ریاســـت تهیه وتدارکات واقع ریاست مالی و تدارکات منزل اول بصورت رایگان بدست آورند.

جلسه قبل از داوطلبی: جهت بازدید از نمونه ها و سمپل ها جلسه به تاریخ ١٤٠٤/ ٠٥/ ٠٢ ســـاعت ١٠ قبل از ظهر در ریاســـت تدارکات، آمریت اجناس و خدمات غیر مشورتی دایر میگردد.

DACAAR

اعــــــلان داوطلبی مؤسسه داکار

مؤسسه خیریه داکار (اعلان داوطلبی تهیه گوساله های باردار برای پروگرام داکار در ولایت ننگرهار) را در پروسه ذیل به داو طلبی میگذارد. لهذا از تمام علاقمندان واجد شرایط تقاضا بعمل میاید تا آفر های سربسته شانرا قبل از معیاد تعین شده به دفتر مرکزی داکار بسپارند.

1-DACAAR ITB 31 PRF-504 to 509/DANIDA/2501-DANIDA/DAN1.2/DAN1.4/07.2025 (داوطلبی تهیه گوساله های باردار برای پروگرام داکار در ولایات ننگرهار)

بناً ازمتقاضیان محترم خواهشمندیم تا آفرهای داوطلبی باید الی تاریخ ۲۷ جولای ۲۰۲۵ مطابق ۰۵ اسد ۱۴۰۴ ساعت ۴:۰۰ عصر به شعبه لوجستیک دفتر مرکزی مؤسسه داکار واقع پروژه تایمنی، پایکوب نصوار، سرک 12 قلعه فتح الله، ولایت کابل بسپارند.

فورم قیمت گذاری و اعلان داوطلبی را از صفحات انترنیتی ذیل میتوانید بدست آورید:
www.Dacaar.org
www.Acbar.org
نمبر تیلفون: ۰۰۹۳۲۰۲۲۰۱۷۵۰

۱۰۰۰ بستریز روغتون کې ...

روغتون تر زرو پورې فعال بســـترونه لري. ښاغلي منقاد ویلي، چې زر بستریز روغتون شپه او ورځ د هېوادوالو په چوپړ کې دی او هر ورځ په اوسط ډول له ۲۵ څخه تر ۳۵ ناروغانو مراجعه کوي او ځینې رخصتېږي. هغه ویلي، که یو ناروغ د کورنۍ لخوا یا هم راټولېدنې په توګه راوړل کېږي، له تشخیص د ټولو پړاوونو وروسته راجستر کېږي او دوسیه ورته اچول کېږي، که چېرته د زهر ایستلو مرحله کې یې تر ۱۵ ورځو پورې دوام کوي او روغتیایي پرسونل یې ښه خدمت کوي. دویمه مرحله له ناروغ څخه د مخدره مواد د اســـتعمال علتونه پوښتل کېږي او د ۴۵ ورځو لپاره رواني پلان تطبیقېږي او هر ناروغ ځان ته مدیر دې قضیې لري، چې په دې برخه کې دیني عالمان، روان شناسان، رواني مشاورین، ټولنیز کارکوونکي له ناروغانو سره، انفرادي، ګروپي او دیني غونډې د ناروغ د اړتیا پر اساس نیول کېږي، تر څو ناروغ روغ رمټ کورنۍ ته ستون شي. ده زیاته کړې، چې هر کال له ۸۵۰۰ څخه زیات ناروغانو درملنه کېږي په دې وروستیو کې الحمدالله په هېواد کې د معتادینو کې د پام وړ کموالی راغلی دی. نوموړي زیاته کړې، دعامې روغتیا وزارت د درملنې مسؤلیت لري، فني او حرفوی زده کړې د کار او ټولنیزو چارو وزارت پر غاړه دي او په همدې ترتیب د معتادینو راټولونه د کورنیو چارو وزارت اړوند د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت لخوا تر سره کېږي، چې هر ورځ ۱۳۰ په شاوخوا ناروغان راوړل کېږي، د زر بستریز روغتون تر څنګ د امید او اغوش په نامه د درملنې مرکزونه هم فعالیت کوي.د زر بستریز روغتون رییس زیاته کړې، چې پر نشـــو د روږدې کېدلو علتونه او عوامل ډېر زیات یو څو یې د بېلګې په ډول وړاندې کوم، ځوانانو ته د نشه یي توکو د کارولو په هکله د عامه پوهاوي نشتوالی، د کورنۍ ناسم چلند او د اولادونو نه تربیه، ګډوالي او د پردیو هېوادونو دود، د مخدرو موادو ارزاني، پر نشو له روږدو کسانو سره ناسته ولاړه.

سمیع الله مومند

تأکید وزارت امور داخله بر ملبس ...

در بیانیه آمده که این مکلفیت بدلیل این که مسئولیت نیروهای پولیس تامین امنیت، تنفیذ قانون و مبارزه با هرنوع جرم و جنایت است، صورت گرفته است. در حال حاضر وزارت امور داخله برای بخش‌های مختلف پولیس یونیفورم‌های مشخص در نظر گرفته است. آگاهان امور نظامی تاکید بر استفاده از لباس نظامی هنگام اجرای وظیفه را ارزش دادن به داشتن نظم و نظام تعبیر کرده‌اند.

۳ ولایتونو کې اوږدمهالي شخړې ...

ســـوله‌ییزه پای ته ورسېده. په پروان کې هم د یوې کورنۍ تر منځ ۱۷ کلنه شخړه، چې د ښځې او خاوند تر جلاوالي رسېدلې وه، د شریعت له مخې حل شوه او دواړه بېرته یو ځای کړل شول. دغه راز، د لغمان ولایت چهاردهي سیمه کې د ترافیکي پېښې له امله راپورته شوې شخړه چې یو تن په کې خپل ژوند له لاسه ورکړی و، د ولایتي چارواکو په هڅو هواره شوه. د یادونې وړ ده، چې اړوند مسئولینو د ښښې، سوله‌ییز ژوند او ورورولۍ پر ارزښت ټینګار کړی دی.

غزني کې ښوونځیو ته د درسي ...

شفاف ډول ووېشل شي. د غزني د پوهنې رییس ویلي، چې له ښسټیزو اسانتیاوو د زده‌کوونکو د برخمن کېدو او مناسب درسي چاپېریال د برابرېدو لپاره هڅې پیل شوې دي. د ویلو ده، چې له دې مخکې هم د ځینو مرستندویه بنسټونو په مالي ملاتړ له ښوونځیو سره د ورته توکو مرستې شوې وې.

د کرنیزو محصولاتو ساتنه؛ د سړو خونو ...

وړاندې هم یوه لویه ننګونه ګڼل کېږي. د کندز یو تن کروندګر حاجي بشـــیر وایي: «په سړه خونه کې مو حاصل درې میاشتې هم خوندي پاتې کېدای شو، خو چې دا اسانتیا نه لرو، نو حاصل مو یا په ټیټه بیه خرڅېږي او یا خرابېږي». د جانان خان په نوم د دغه ولایت یو بل کروندګر او باغوان هم تر ډېره وخته د تازه کرنیزو محصولاتو د ساتنې لپاره د هېواد دننه په کافي اندازه د سړو خونو په جوړېدو ټینګار کوي. نوموړي زیاته کړې: «که سړې خونې وي هم بسنه نه کوي او نه په هغه معیار برابرې دي، چې د وطن محصولاتو ساتنې لپاره دې بس شي، که د وطن په سطحه څو لویې سړې خونې جوړې شي هم زموږ لپاره ښې دي او هم به ورسره د هېواد اقتصاد برابر شي». د کرنې وزارت چارواکي هم مني، چې د کرنیزو حاصلاتو د ساتنې لپاره سړې خونې د هېواد د کروندګرو جدي اړتیا ده.د دغه وزارت ویاند مولوي غلام محمد کاظم شریعت ورځپاڼې ته ویلي، چې د همدې اړتیا د پوره کولو لپاره اسلامي امارت په روان کال کې په مختلفو ولایتونو کې شپږ سړې خونې جوړوي. هغه زیاته کړې: « درې سړې خونې په کندز، کندهار او بلخ کې جوړېږي، چې د ۱۵۰۰ متریک ټنه محصولاتو د ســـاتنې وړتیا لري او دغه راز درې ســـړې خونې په جوزجان، سرپل او کابل کې جوړېږي، چې ۱۰۰ متریک ټنه توکي ســـاتلی شي». هغه همدا شان ویلي، چې دمګړۍ په ټول هېواد کې ۳۲ لویې او وړې سړې خونې شته، چې د اسلامي امارت او خصوصي سکټور په ګډه همکارۍ جوړې شوې دي.ښاغلي کاظم دا هم ویلي، چې په مختلفو ولایتونو کې د ۱۴ سړو خونو کارونه نیمګړي پاتې دي، چې هره یوه د ۱۵۰۰ متریک ټنه محصولاتو د ساتنې او دغه راز په شپږ ولایتونو کې ځینې نورې سړې خونې تر کار لاندې دي ،چې ټول ټال د ۵ زره متریک ټنه حاصلاتو د ساتنې ظرفیت لري.ده ټینګار کړی، چې د دغو پروژو له سرته رسېدو سره به د کرنیزو حاصلاتو او تازه مېوو د ساتنې برخه کې شته ستونزې هوارې شي. د اقتصادي چارو پوهان په دې باور دي، چې سړې خونې د کرنیزو حاصلاتو د مدیریت لپاره حیاتي ارزښت لري. اقتصادي کارپوه سیف الله خالد ویلي، یوازې دا نه چې سړې خونې د محصولاتو د خرابېدو مخه نیسي، بلکې کروندګر ته دا زمینه برابروي، چې حاصل په مناسبه بیه، مناسب وخت او له مناسبه کیفیت سره پلور ته وړاندې کړي.د ده پر وینا، دغه چاره د کروندګر د عاید د زیاتوالي تر څنګ د کورني بازار د ثبات او د صادراتو د پراخوالي لامل هم ګرځي. سړې خونې د افغانستان د کرنیز سکټور د پیاوړتیا یوه مهمه برخه ګڼل کېږي، چې د اسلامي امارت له لوري دغې برخې ته پاملرنه او پلان شوې پراختیا نه یوازې دا چې د کرنې د ودې یو مهم ګام دی، بلکې د هېواد د اقتصادي ثبات، ملي عوایدو او د بزګرانو د هوساینې لپاره یو ګټور بدلون راوستلی شي.

نذیرمنیب

برگشت بیش از یک میلیون مهاجر ...

تن از مهاجرین برگشته بگونه فردی و بیشتر از ۶۸۳ هزار تن فامیلی به افغانستان برگشتانده شده‌اند. مفتی عبدالمطلب حقانی تاکید کرده که مهاجران برگشـــته پس از ورود به کشـــور در کمپ‌های موقتی جا داده‌شـــده و پس از کمک‌های خوراکی، غیرخوراکی و نقدی به محلات اصلی شـــان انتقال شده‌اند. این آمار از ســـوی وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان در حالی نشر شده که اخراج اجباری مهاجرین افغان در هفته‌های اخیر از ایران شدت بی‌سابقه به خود گرفته است. این عملکرد دولت ایران به شدت در سطح کشورهای مختلف با واکنش های تُند اقشار گوناگون رو به‌رو شده که خواهان توقف آن و تغییر شیوه برخورد با مهاجرین افغان شده‌اند.

کورنی اختلاف؛ د ذلت، خوارۍ ...

باید دا فرصت د قدر وړ وګڼل شي. که چا ته د نظام په بدلون کې فردي یا ګوندي زیان رسېدلی هم وي، دا یې اخلاقي، دیني او ملي مسئولیت دی، چې خپل شخصي غبرګون د ولسي خیر، سراسري آرامۍ او ملي ثبات قرباني کړي او د موجود نظام د اصلاح او سمون لپاره هڅه وکړي. په پای کې باید یو ځل بیا ټینګار وشي، چې کورنی اختلاف یوازې د ښکېلو خواوو د ناکامۍ زېری دی، خو یووالی او همدلي د ټول ملت د نجات، بریا او عزت تضمین دی. راځئ دا حقیقت درک کړو او له هر ډول ژبني، قومي، ګوندي او شخصي اختلاف نه لوړ ولاړ شو. موږ یو ملت یو او نجات مو هم یوازې په یووالي کې دی.

د هرات په «اسلام کلا» پنډغالي ...

په خبرپاڼه کې ویل شوي: «راستنېدونکي به په آسانه توګه د پنځو مخابراتي شبکو سیمکارتونه ترلاسه کـــړي.» د مخابراتـــو او معلوماتي ټکنالـــوژۍ وزارت په خبرپاڼه کې همدا راز ویل شـــوي، چې یاد ســـیمکارتونه په استثنایي ډول د مهاجرت په اسنادو وېشل کېږي چې ۴ میاشتې به فعاله وي تر هغې وروسته د سیمکارت درلودونکي اړ دي چې خپل سیمکارت د اترا د طرزالعمل مطابق ثبت او راجستر کړي او د نه راجستر کېدو په صورت کې به غیرفعاله کېږي.

آغاز کار شبکه آبرسانی در ...

پروژه متذکره برای ده‌ها تن از باشندگان محل زمینه کار فراهم شده است. در خبرنامه آمده که: این شبکه شـــامل حفاری دو حلقه چاه، اعمار یک ذخیره آب به ظرفیت (۵۰) متر مکعب، نصب (۳۲) تخته سولر، (۵۳۵) عدد شیردهن آب و به طول (۲۴۰۰۰) متر پایپ دوانی می باشد.تطبیق پروژه انکشافی برای ایجاد ســـهولت در زندگی مردم در سراسر کشـــور ادامه دارد. این درحالی است که وزارت احیاء و انکشـــاف از افتتاح و بهره‌برداری ۷ پایه پلچک آهن کانکریتی در مربوطات ولسوالی خانقاه ولایت جوزجان خبر داده است.

قیرریزی ۲،۲ کیلومتر سرک ...

شاروالی ولایت هرات در گفت‌وگو با رسانه‌ها از آغاز کار این جاده خبر داده است. به گفته آقای آرمل، جاده یادشده بخشی از جاده عمومی شمال شهر هرات بوده که از ساحه «سرکاریزک الی بازار شیدایی» ناحیه پانزدهم این شهر امتداد دارد. او افزوده که کار جاده متذکره در حضورداشت ملا نعمت‌الله حسن، شاروالی هرات آغاز شده است. به گفته آرمل، هزینه ساخت جاده کاریزک الی بازار شیدایی از بودجه توســـعه‌ای شاروالی هرات پرداخت می‌شود. انتظار می‌رود کار ساخت جاده متذکره تا شش ماه آینده تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود. با تکمیل کار این جاده بخشی از مشکلات باشندگان شمال شهر هرات از ناحیه زیربنای ترانســـپورتی مرفوع و حادثات ترافیکی کاهش خواهد یافت. ساخت سرک‌ها به‌عنوان شریان‌های شهری در توسعه شهرها و بهبود وضعیت اجتماعی و اقتصادی مردم مهم شمرده می‌شود.

سروی و امکان‌سنجی بند گلبهار ...

و گفته‌اند که با اعمار آن، مشکلات کم‌آبی در ولایت پروان نیز حل خواهد شد. طرح اعمار بند بالای دریای پنجشیر در ساحه گلبهار، از سال‌ها به این‌سو مطرح شده که ا.ا. افغانستان آن بگونه جدی دنبال کرده است.

Shariat
Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷٦٤۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰٦۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦ / ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Tuesday 08 July 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 797

امتحانات چهارنیم‌ماهه مکاتب ولایت‌های سردسیر کشور آغاز شد

وزارت معارف اعلام کرده که امتحانات دانش‌آموزان مکاتب ولایت‌های سردسیر کشور آغاز شده است.

این وزارت با نشر خبرنامه‌ای از آغاز امتحانات یادشده خبر داده است.

بربنیاد اطلاعات نشر شده، مناطق سردسیر کشور شامل ولایت‌های بامیان، دایکندی، غور، بدخشان، پنجشیر، کاپیسا، پروان، نورستان، سمنگان، تخار و میدان‌وردک می‌شود.

قرار است روند اخذ امتحانات چهارنیم ماهه دانش‌آموزان در این ولایت‌ها تا اواخر ماه‌جاری هجری خورشیدی (سرطان) ادامه یابد.

بربنیاد خبرنامه، امتحانات سالانه ولایت‌های مناطق سردسیر کشور حسب هدایت رهبری وزارت معارف آغاز شده است.

۳ ولایتونو کې اوږدمهالې شخړې په سوله‌ییز ډول هوارې شوې

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د ولایتي ریاستونو او قومي مشرانو په هڅو، په کاپیسا، پروان او لغمان ولایتونو کې درې اوږدمهالې شخړې هوارې شوې.

یاد وزارت وایي، د کاپیسا ولایت په تګاب ولسوالۍ کې ۱۳ کلنه شخړه، چې له امله یې دوو تنو په کې خپل ژوند له لاسه ورکړی و، د سیمه‌ییزو مشرانو په منځګړیتوب ... ۳مخ

سروی و امکان‌سنجی بند گلبهار بالای دریای پنجشیر انجام شد

وزارت آب و انرژی می‌گوید، سروی و مشاهدات امکان‌سنجی بند گلبهار بالای دریای پنجشیر انجام شده است.

بربنیاد خبرنامه، این سروی توسط یک تیم تخنیکی به رهبری داکتر فاروق اعظم، مشاور ارشد وزارت آب و انرژی به همکاری ریاست ولایتی این وزارت در کاپیسا انجام شده است.

در خبرنامه آمده است: مسئولین متذکره اعمار این بند را یک منبع بزرگ انرژی برای کشور خواندند و افزودند که با اعمار آن مشکلات کم‌آبی در ولایت‌های کاپیسا، پروان و کابل تا حدودی حل خواهند شد.

وزارت آب و انرژی همچنان گفته که هیئت یادشده اعمار یک بند بالای دریای شتل ولایت پنجشیر را نیز ارزیابی کرده ... ص۳

غزني کې ښوونځیو ته د درسي توکو د وېش لړۍ پیل شوې

د غزني ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ‹د یو همکار بنسټ په مالي ملاتړ› د ښوونځیو زده‌کوونکو ته د ۷۲ میلیون افغانیو په ارزښت د درسي توکو د وېشل لړۍ پیل شوې ده.

د غزني پوهنې ریاست مسئولینو امید راډیو ته ویلي، چې په دې مرسته کې کتابچې، بکسې، خیمې، تختې، د لومړي او درېیم ټولګي پښتو او دري کتابونه او نور اړین درسي توکي شامل دي.

مسئولینو دا مرسته د ښوونیز بهیر د پیاوړتیا لپاره مهمه بللې او پر وینا یې چې یاد توکي به د یوې ځانګړې کمېټې په څارنه، د مرکز او ټولو ولسوالیو ښوونځیو ته په ... ۳مخ

بغلان کې د خټکیو او هندوانو حاصلات ډېر شوي

بغلان ولایت کې د خټکیو او هندوانو بزګرانو ویلي، چې سږکال په دغه ولایت کې د خټکیو او هندوانو بیې ښې دي، خو د سړو خونو له نشتون څخه شکایت لري.

د بغلان بزګر ویلي، د معیاري سړو خونو او نړیوالو بازارونو ته د محصولاتو صادرولو لپاره د اسانتیاوو او دغه راز، د کرنې میکانیزه کولو لپاره د ملاتړ له نشتوالي شکایت کوي.

ورته مهال د بغلان د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو ریاست د معلوماتو برخې مسئول ولي آمرخیل ویلي، چې د بازار موندنې په برخه کې د خټکیو او هندوانو لپاره کار شوی، بزګرو ته تخنیکي مشورې هم د کرنیزو افتونو د مخنیوي په موخه ورکړل شوې او هڅې دادي څو سړې خونې هم ورته جوړې شي.

ننګرهار کې د سړک او ویالو پخولو چارې پیل شوې

د ننګرهار ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې د نږدې ۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت د سړک او ویالو جوړولو چارې پیل شوې دي. د جلال آباد ښاروالۍ ویاند ویلي، چې د دغه ښار د نهمې ناحیې اړوند سرخ دېوال سیمه کې د سړک او ویالو د جوړولو پروژه پیل شوې، چې ټول ټال پرې ۱۱.۸ میلیونه افغانۍ لګښت راځي.

نوموړي زیاته کړې، چې دغه پروژه د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د یونپس موسسې په تخنیکي همکارۍ تطبیقېږي، چې په ترڅ کې به یې د ۸۱۳ مترو په اوږدوالي او ۷ مترو په پلنوالي سړک او د ۱۱۵۰ مترو په اوږدوالي ویالې جوړې شي.

د نوموړي په خبره د دغو پروژو چارې به د پنځو میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستو ته وسپارل شي.

د ښاروالۍ ویاند څرګنده کړې، چې رهبري یې هڅه کوي، د داخلي عوایدو او همکارو موسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په تدریجي ډول اساسي ترمیم او بیا جوړ کړي.

قیرریزی ۲،۲ کیلومتر سرک در هرات آغاز شد

مسئولان محلی ولایت هرات می‌گویند، کار قیر ریزی ۲ اعشاریه ۲ کیلومتر سرک در مرکز این ولایت به هزینه ۲۷ میلیون افغانی آغاز شده است. محمد ناصر آرمل، سخنگوی ... ص۳

بریکس غړو هېوادونو پر غزې او تهران د صهیونیست رژیم بریدونه غندلي

د بریکس غړو هېوادونو مشرانو په یوې ګډې خبرپاڼه کې د صهیونیست رژیم له لوري پر غزې او ایران وروستي بریدونه په کلکه غندلي او د غزې لپاره یې له کوم دلیل پرته د اوربند غوښتنه کړې ده. د رویټرز خبري آژانس د راپور له مخې، دغه خبرپاڼه د بریکس د سرمشریزې له پای وروسته خپره شوې، چې د برازیل په کوربتوب ترسره شوې وه. بریکس چې غړي یې برازیل، روسیه، هند، چین او سویلي افریقا دي، ویلي چې د امریکا او اسرائیل له لوري پر ایران ګډ بریدونه د سیمه‌ییز ثبات لپاره خطرناک دي او نړیوالو اصولو ته سپکاوی ګڼل کېږي.

تعداد جانباختگان سیلاب امریکا به ۸۲ تن رسید

مقام‌های دولتی در امریکا تائید کرده‌اند که شمار تلفات سرازیر شدن سیلاب مدهش و مرگ‌بار در ایالت تگزاس این کشور به ۸۲ تن افزایش یافته است. گرگ ابوت، والی تگزاس امریکا گفته که ۴۱ تن تاکنون در سراسر این ایالت در پی جاری شدن سیلاب ناپدید اند و ممکن رقم ناپدیدشدگان افزایش یابد. در منطقه «کِر» جای که یک کمپ تابستانی نوجوانان موقعیت دارد، نیروهای امداد اجساد ۶۸ تن از جمله ۲۸ کودک را بدست آورده‌اند. همچنان اجساد ۱۰ تن دیگر در مناطق «تراویس، برنت، کندال، تام گرین و ویلیامسن» پیدا شده است. مقام‌های محلی افزایش در شمار قربانیان سیلاب تگزاس امریکا را رد نکرده‌اند.

ترامپ ایجاد حزب سیاسی ایلان ماسک را «مضحک» خواند

دونالد ترامپ، رییس جمهور امریکا به ایجاد حزب جدید سیاسی در این کشور از سوی ایلان ماسک (حزب امریکا) واکنش نشان داده و آن را «مضحک (خنده‌دار)» خوانده است. رییس جمهور امریکا که هنگام سفر از خانه‌اش در نیوجرسی به کاخ‌سفید در گفت‌وگو با خبرنگاران سخن می‌گفت تاکید کرده که نظام امریکا برای دو حزب ساخته شده و احزاب دیگر محکوم به شکست هستند. ترامپ گفته است: دموکرات‌ها راه‌شان را گم کرده‌اند، اما همیشه این یک نظام دو حزبی بوده است. و فکر می‌کنم راه‌اندازی حزب سوم فقط باعث سردرگمی می‌شود. این نظام اساساً برای دو حزب طراحی شده. حزب‌های سومی که پیشتر شکل گرفته‌اند هرگز موفق نبوده‌اند. اخیراً ایلان ماسک در واکنش به تصویب قانون کاهش مالیات دولت دونالد ترامپ از سوی قانون‌گذاران امریکایی یک حزب سیاسی جدید در این کشور تاسیس کرد.آقای ماسک در ایکس نوشته: وقتی پای ورشکسته ساختن کشور با فساد و حیف‌ومیل در میان باشد، ما در واقع در یک نظام تک‌حزبی زندگی می‌کنیم، نه در یک دموکراسی. امروز، حزب امریکا ایجاد می‌شود تا آزادی‌تان را دوباره به شما بازگرداند.

اسرائیلو د یمن درې بندرونه او یوه د برېښنا کارخونه بمبارد کړې

د صهیونیست رژیم پوځ د یمن په درېیو مهمو بندرونو او یوې برېښنا تولیدوونکې کارخونې هوایي بریدونه کړي دي. رویټرز د یاد رژیم پوځ د معلوماتو له مخې ویلي، بریدونه د الحدیده، راس عیسی او الصلیف پر بندرونو شوي او دغه راز د راس قنطب پر برېښنا کارخونې هم بمبار شوی دی. د دې بریدونو د ځاني او مالي زیانونو په تړاو لا هم کره جزئیات نه‌دي ورکړل شوي؛ خو سیمه‌ییزو سرچینو د ملکي زیانونو احتمال تائید کړی دی.